PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

اونیزه شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

کله چې شپیلۍ پوه کړی شي نو بیا به خپل منځې تولې اړیکې غوځې او له یو بل نه به پوښتنه هم نه کوي. په هغه ورځ چې د هر چا تلی درنې شوی نو همغوی بریمن دي. او د چا چې تلی سپکې شوی نو خانونه یې تاواني، او تل به په جهنم کې پاتې وي، مخونه به یې په اور کې سوځي او تل به چینګ داړی وي. ورته به وویل شي چې آیا پر تاسو زما آیتونه نه وو لوستل شوي چې تاسو به درواغ ګڼل. (سورة المؤمنون: ۱۰۱ - ۱۰۵)

درس حدیث

له حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چې محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي:
په جهنم کې یوه داسې کنده ده چې له هغې نه پخپله جهنم هره ورځ څلور سوه خله پناه غواړي دا کنده د محمد صلی الله علیه وسلم د اُمت ریاکارو خلکو لپاره تیار کړی شوی ده. (مشکواة المصابیح)

شهادت دویم کال، ۹۲ مه ګڼه، چهارشنبه ۱۳۸۹ هـ ل د مرغومی ۲۹ مه د۱۴۳۲ هـ ق د صفر المظفر ۱۳ مه د۲۰۱۱ م د جنوری ۱۹ مه

نظرپوښتنه ښيي چې د افغانستان له جنګه د امریکایانو ملاتړ تر ټولو کم حد ته راټیټ شوی

تاند ویب پاڼه:
په امریکا کې له یوې نوې نوې نظرپوښتنې، چې پایلې یې د سې شنبې په ورځ اعلان شوې، څرګندېږي چې په دغه هیواد کې له هغه وخته چې بارک اوباما د امریکا ولسمشر شوی دی، د افغانستان له جګړې سره د امریکایانو ملاتړ تر ټولو ټیټ حد ته راکم شوی دی.
له دې نظرپوښتنې سره سم، چې د کواینیپک پوهنتون له لوري شوې، په سلو کې یوپنځوس امریکایان وایي چې د امریکا متحدایالتونه په افغانستان کې باید ځان له ښکېلولو وباسي.
په سلو کې له ۴۶ تر ۴۰ پورې پوښتل شویو امریکایانو د افغانستان د حالاتو د بدلولو لپاره د ولسمشربارک اوباما د هلو ځلو ملاتړ کړی.
اوباما له واک ته رسېدو وروسته افغانستان ته پام زیات کړ او د امریکایي ځواکونو شمېر یې اوس ۹۷ زرو ته رسولی دی خو په عین حال کې یې ویلي چې د سږ کال له جولای څخه به له افغانستانه د امریکایي ځواکونو په ایستلو پیل وکړي او د افغانستان د امنیتي چارو مسوولیت به په تدریجي ډول تر ۲۰۱۴ پورې افغان

پاتې ٤ مخ

نامزد ریاست جمهوری فرانسه:

نمی دانم چرا در جنگی که به فرانسوی های ارتباط ندارد، وارد شده ایم؟

پاریس، ګران افغانستان:
بر اساس گزارش های تازه، نامزد انتخابات ریاست جمهوري فرانسه در سال ۲۰۱۲ میلادي، خواستار خروج هرچه سریعتر نیروهاي فرانسوي از خاک افغانستان شد.
آرنو مونتبورگ از حزب سوسیالیست فرانسه روز دوشنبه در گفتگو با خبرنگاران گفت: به عقیده من اردوی فرانسه نمي

بقیه در صفحه ۴

افغانستان پر امریکایي قراردادیانو مالیه وضع کړې

امریکا، تاند:
واشنګټن پوسټ ورځپاڼې راپور ورکړ چې د افغانستان حکومت پر هغو قراردادیانو مالیه وضع کړې چې په افغانستان کې فعالیت کوي او دا کار د ورځپاڼې په نظر ممکن بیا د افغانستان او امریکا ترمنځ یوه نوې شخړه جوړه کړي.
واشنګټن پوسټ د یوشمېر افغان او امریکایي چارواکو په قول، چې نومونه یې نه دي ذکر شوي، ویلي چې د امریکا د حکومت پر مرستو مالیه د امریکا د قانون او همداراز د افغانستان او امریکا ترمنځ د دوه اړخیزو موافقو خلاف ده.
خو قراردادیان وایي چې د خپلو هغو کارونو په خاطر د ټکس بیلونه ورلېږل شوي دي چې د امریکا د حکومت د پروګرامونو پراساس یې کړي دي.
امریکا باور لري چې د افغانستان په جنوب او ختیځ کې له بزګرو سره مرسته او د بیارغونې هلې ځلې د طالبانو په وړاندې د مبارزې په ګټلو کې کلیدي رول لرلی شي.

پاتې ٤ مخ

افغان چارواکي به له روسیې سره د نفتي موادو د وارد ولو تړون لاسلیک کړي

آزادي راډیو:
د ایران له خوا د افغان سوداګرو د تېلو د ټانکرونو له ایسارولو وروسته افغان دولت هڅه کوي، چې له روسیې سره د درې میلیون ټنه نفتي موادو د واردولو تړون لاسلیک کړي.
د سوداګرۍ او صنایعو وزارت مرستیال غلام محمد ییلاقي ازادي راډیو ته وویل، چې افغاني پلاوی به له روسي چارواکو سره د اقتصادي اړیکو د ښه والي په برخه کې خبرې وکړي.
ښاغلي ییلاقي زیاته کړه، چې دغه پلاوی به هڅه کوي، چې له روسیې څخه درې میلیونه ټنه با کیفیته نفتي مواد په ارزانه بیه راوارد کړي:
"د نفتي موادو په اړه باید ووایم، چې روسیه به موږ ته په کافي

پاتې ٤ مخ

حامد کرزی خواهان رفع گسترش فساد اداری در قرارداد های بین المللی شد

پژواک:
حامد کرزی در دیدار با هیئت سنای امریکا گفته است که بنیاد مهمی برای برچیدن فساد اداری در کشور گذاشته شده، اما فساد در قرارداد های بین المللی که یک فساد گسترده و با حجم زیاد است مشکلی است که باید جامعه جهانی به آن توجه کند. این مطلب در خبرنامهٔ دفتر سخنگوی رئیس جمهور که امروز (۲۷ جدی) به آژانس خبری پژواک رسیده، بیان شده است.
به اساس معلومات منبع، حامد کرزی رئیس جمهور افغانستان، شام دیروز با هیئت سنای ایالات متحده امریکا تحت ریاست سناتور میچ مکینل در ارگ ریاست جمهوری در کابل دیدار و گفتگو کرد. طی حدود ۹ سال گذشته، بیشتر قراردادهای بزرگ بازسازی از جانب موسسات بین المللی و کشور های تمویل کننده صورت گرفته است.
دولت افغانستان سعی دارد تا در قسمت مصرف مساعدت های جامعه جهانی و در عقد قرارداد های بازسازی دست باز پیدا نماید.
به همین دلیل در نشست های بین المللی، یکی از موضوعات مورد بحث و پیشنهاد کلیدی دولت افغانستان این بوده تا بیشتر مساعدت های جامعه جهانی از طریق حکومت افغانستان به مصرف برسد. روی همین اصل در نشستبین المللی لندن و کابل توافق صورت گرفت تا پنجاه درصد این کمک ها از

بقیه در صفحه ۴

په راوینشاو پوهنتون کې هندي محصلینو دوه افغان محصلین ووهل!

هند، رسنۍ:
د هند د اوریسا ایالت په کټک سیمه کې د راوینشاو پوهنتون محلي محصلینو او افغان محصلینو تر منځ په شخړه کې دوه افغان محصلین ټپي شول.
پېښه د جمعې په ورځ (دجنوري ۱۳مه) هغه مهال رامنځ ته شوه کله چې هندي محصلینو د پوهنتون له مسئولینو سره د لیلیې د ودانۍ د جوړولو په اړه تر خبرو اترو وروسته د پوهنتون صحن ته راووتل او د لاریون په توګه یې د پوهنتون لویه دروازه وتړله. په همدې وخت کې افغان محصلینو چې تازه یې ازموینه پای ته رسبدلې وه غوښتل له پوهنتونه بهر ووځي خو د محلي محصلینو له خوا له خنډ سره مخ شول. د دواړو خواوو تر منځ د څه وخت لپاره د ترخو خبرو تر اړولو راړولو وروسته هندي محصلینو پر افغان محصلینو حمله وکړه او هغوي یې پر کاڼو وویشتل او پر لرګیو یې ووهل.
په شخړه کې د افغان محصلینو اسماعیل او حمید سمسور سر، پوزه او لاس ټپي شول چې وروسته پولیس صحنې ته راورسېدل او

پاتې ٤ مخ

سلمان بشیر:

افغانستان او پاکستان د اړیکو نوې پړاو پرانیزي

آزادي راډیو:
د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت مرستیال وایي، چې افغانستان او پاکستان باید پخوانی ستونزې او انتقادونه د تاریخ ځپو ته وسپاری او د اړیکو د ښه والي لپاره نوې پړاو پرانیزي.

د پاکستان د بهرنیو چارو مرستیال وزیر په افغانستان کې د سولې د روانو هڅو په سیمه ایز او نړیوال ملاتړ ټینګار وکړ.

سلمان بشیر د یکشنې په ورځ کابل ته راغلی او دلته یې د افغان ولسمشر حامد کرزي په ګډون له یو شمیر جګپوړو چارواکو سره لیدلي.
نوموړي، چې د خپل سفر په دویمه او وروستی ورځ د رسنیو له یوشمېر استازو سره خبرې کولې وویل، چې پاکستان نه یوازې دا، چې خپله د افغان دولت د پخلاینې د هڅو ملاتړ کوي، بلکې له نړیوالې ټولنې هم له دغو هڅو سره د همکارۍ غوښتنه کوي.
نوموړي همدراز د افغانستان او پاکستان ترمنځ په اړیکو کې د یو نوي پړاو په پرانستلو ټینګار وکړ او ویې ویل:
"افغانستان باید په دې برخه کې مخکې وي او نورو وروسته، ځکه چې دا مساله مهمه ده، هر هېواد خپل خانه شرایط لري، موږ د افغانستان له دولت او خلکو غواړو، چې د یو ویاړلي ملت په توګه دی، غوره دودونه لري، خپل

پاتې ٤ مخ

ایکن بیري:

د افغانستان هیڅ داسې سیمه نشته چې رسنۍ په کې نه وي

آزادي راډیو:
په افغانستان کې د بیان د ازادۍ په برخه کې له ځینو انتقادونو سره سره د امریکا سفیر په دې باور دی، چې په دغه هېواد کې د ازادو رسنیو فعالیتونه د سیمې په کچه بې ساري دي.
ایکن بیري، چې د دوشنبې په ورځ یې په کابل کې د حکومت د رسنیو د مرکز د دویمې کلیزې په ویاړ جوړې شوې غونډې ته وینا کوله وویل، چې دغه مرکز د معلوماتو د ورکړې په برخه کې دغه مرکز خورا مهم رول لوبولی دی.
خو ایکن بیري په دې برخه کې د لا زیاتو هڅو غوښتنه وکړه او ویې ویل، چې دا فعالیتونه باید ولایتونو ته هم وغځولې شي.
«ډېر د خوشالۍ ځای دی چې نن د دغه مرکز په لمانځغونډه کې له تاسو سره یم
اوس د افغانستان هیڅ داسې سیمه نشته چې رسنۍ په کې نه وي موجودې او هیڅ داسې موضوع نشته چې خبریالان ورته لاس رسی ونه لري.
زه هیله مند یم، چې رسنیو ته د معلوماتو په برخه کې دغه مرکز خپلو هڅو ته دوام

بقیه در صفحه ۴

کمزوری افغانستان او د پیلانو زور

دویم مخ

ایمان او استقامت

دریم مخ

د اسلامي تاریخ لومړنی پېښې

دریم مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

حزب اسلامي افغانستان او لیکې یې

له څو کلو راهیسې حزب اسلامي افغانستان د هېواد د اساسي قانون او عدلیې وزارت له مقرراتو سره سم د یوه رسمي ګوند په حیث د کار او فعالیت اجازه ترلاسه کړېده، که څه هم د حزب اسلامي افغانستان عمر د هېواد د اصیل اسلامي نهضت په حیث له څلوېښتو کلو اوړي، ولې دا چې د کمونیستي رژیم پر وخت یې زیاتره غړي د جهاد په سنګرو او یا له هېواده بهر په نورو هېوادونو کې په فعالیت بوخت وو، او په داخل کې یې زیاتره غړیو د وخت د مستبدو رژیمونو له لاسه په زندانونو کې د انتظار شپې ورځې تېرولې، چې ډېری یې د نامعلوم جرم په اساس د کمونستانو له خوا په اعدام هم محکوم شول، او د جهاد او هجرت له ویاړه ډک تاریخ یې ددې مقالې له توانه بهر او باید پر بېلا بېلو برخو یې کتابونه ولیکل شي. اصل موضوع چې "حزب اسلامي افغانستان او لیکې یې" ده پرې خبره کوو چې حزب باید اوس مهال او په ګانده کې کومې چارې سر ته ورسوي، چې خپلې لیکې د یوه اسلامي سیاسي ګوند په حیث منظمې کړي او اسلام، هېواد او هېوادوالو ته د رغنده او صادقانه خدمت مصدر وګرځي.

تر هر څه لومړی باید په ټول هېواد کې ولایتي دفترونه او د ولسوالیو مسؤولین سره منظم کړي، که څه هم دا کار په یو شمېر ولایاتو کې ترسره شوی، خو ډېری ولایات لا تراوسه د ګډو وډو شرایطو له لامله نه دی ترسره شوې او که ترسره شوې هم دی په هغه اندازه نه دی چې توقع ده.

څرنګه چې حزب اسلامي یو عقیدتي او سیاسي ګوند دی، تر دې دمه یې د افرادو او په تېره د ځوان کول د روزنې لپاره یو لړ پروګرامونه پکار اچولي دي، که څه هم حزب اسلامي دا مهال په سیاسي ډګر کې د ټولو نامساعدو شرایطو سره سره بیا هم زیاتې لاسته راوړنې لري خو پدې خبره زیات دقت فکر پکار دی چې حزب څنګه کولې شي د افغانستان د ځوانانو ایماني، عقیدتي او فکري روزنې لپاره منظم پروګرام ترتیب او د یو منظم پروګرام او فعالو تیمونو له لارې یې تطبیق کړي.

چې په حقیقت کې همدغه فکري روزنه ده چې د یوه سیاسي ګوند بقا تضمینوي، که نه نو ورو ورو د پاشل کېدو خواته درومي او تشه یې نور سیاسي فعالین ډکوي.

او ددې ترڅنګ په نشراتي برخه کې حزب اسلامي دا مهال د یو اسلامي ګوند په توګه خپل اسلامي او افغاني ارزښتونو ته ژمنه فرهنګي پالیسي لري.

حزب اسلامي په نشراتي برخه کې ډېر فعال او ارزښتمن تاریخ لري او د مقدس جهاد په دوران کې له یو زیات شمېر چاپي رسنیو سره سره راډیویي خپرونې هم لرلې، اوس په داسې حال ، چې ګران هېواد د بېلا بېلو مغرضو کړیو له لوری له یرغل سره مخ دی ډېر اړینه ده چې ټول افغانان د ـرمي او افغاني اصیل فرهنګ د ژغورنې او ودې په موخه په دې لاره کې کوټلي او پاخه ګامونه پورته کړي که نه نو خدای مکړه راتلونکې نسل به مو د پردیو د فرهنګي یرغل ښکار شوې وي.

د ښوونې او روزنې په برخه کې هم حزب اسلامي تر هېڅ سیاسي ګوند وروسته نه دی، حزب اسلامي هڅه کوي چې ښوونځي او لیسې په نږدې ګانده کې جوړې کړي، او ددغو ښوونیزو مرکزونو له لارې د خپلو هېوادوالو د فکري او علمي خدمتونو مصدر وګرځي. او د افغانستان د ښه راتلونکي لپاره ممد واقع شي.

کمزوری افغانستان او د پیلانو زور

سید فضل مولی "لتون"

داسې ښکاري چې دا ځل د دویم ساړه جنګ پیل له افغانستان نه کېږي، ځکه له کومې ورځې نه امریکایي پوځونه افغانستان ته راغلي، د سیمې هېوادونه له یو لړ تشویشونو سره مخ دي، هر یو هېواد په دې فکر کې دی، چې په سیمه کې د امریکا د نظامي ځواک له شتون سره په ګانده کې ددوی اقتصادي او ستراتېژیکي ګټې له خطر سره مخامخ کېدای شي، له همدې امله هر یو یې د ځان ژغورنې په فکر کې دی او په ټولیزه او انفرادي توګه یې په یو لړ ګامونو اخیستلو لاس پورې کړی دی، ښه به دا وي چې په دې باب د سیمې د هېوادونو لومړیتوبونه په لنډ او جلا جلا ډول وڅېړو:

۱- ایران: ایران زموږ د ګران هېواد لویدیځ ګاونډي دی، ایران د شاهي نظام پر وخت په سیمه کې د امریکا د متحده ایالاتو ژاندارم ګڼل کېده، خو کله چې په ۱۹۷۹ میلادي کې د امام خمیني په مشرۍ په ایران کې اسلامي انقلاب رامنځته شو، د ایران او متحده ایالاتو ترمنځ سخت مخالفتونه رامنځته شول، چې دغه مخالفتونه تر ننه پورې دوام لري، همدا اوس ایران د امریکا د متحده ایالاتو پر مټ د ملګرو ملتو له خوا د ډول ډول اقتصادي بندیزونو سره مخ دی.

له یوې خوا د امریکا متحده ایالات د ایران رژیم د ترهګرۍ پلوي هېواد ګڼي او په تور لست کې یې شامل کړی دی او له بلې خوا د ایران حکومت په سیمه کې د امریکایانو نظامي شتون د خپل هېواد لپاره ستر خطر ګڼي، که له یوې خوا په ملي او بین المللي سطحه د امریکا له پالېسۍ سره مخالفت کوي، نو له بلې خوا د هېواد دننه د خپل نظامي ځواک د تقویې ترڅنګ د اتوم بمب د جوړولو هڅه کوي او په دې لار کې د نړیوال مخالفت هېڅ پروا هم نه کوي، همدارنګه په تېرو لسو کلو کې د شانګهای څو غونډې چې د روس، چین، ایران په ګډون پکې د سیمې د هېوادو استازي راټول شوي وو د ایراني دولت کار نامه ګڼل کېږي، چې ویل کېږي چې د شانګهای غونډې په حقیقت کې د امریکا د متحده ایالاتو او ناټو په مقابل کې د وارسا پګت تر رنګېدو وروسته د دویم نړیوال نظامي قوت رامنځته کول وو، چې ایران پکې مخکښ رول لري.

ایراني دولت له افغانانو سره داسې لوبه پیل کړې، چې انسان ورته هک حیران شي، لکه په افغانستان کې ورځ په ورځ په مادي، معنوي او سیاسي لحاظ د خپلو پلوي ډلو یا هم مشریو تقویه کول، د سیاسي لابنګ لوبه ! !؟ همدارنګه په څرګنده د افغان دولت سره د دوستۍ او خواخوږۍ ډېرې پر سینه وهي. بلې خواته یې په ایران کې مېشت پر افغان مهاجرینو قیامت صغری جوړ کړی، هره ورځ او یا د یخنۍ په شپو ورځو کې د افغانانو له هېواده راشړل، بندیانول چې څو ورځې دمخه یې مظلوم افغانان ددرې زرو په شاو خوا کې په اعدام محکوم کړل، او لاډېره ظالمانه او غیر انساني لوبه خوبې دا وه چې د طلوع تلوېزیون د ایران په پوله کې پر افغاني مړیو او زخمیانو د ایراني امنیتي ځواکونو خندا او مسخرې، چې اصلاً یې مسلماني خو لا څه چې انسانیت هم پرې شرمېږي.

همدارنګه د ایران پولې ته نږدې د افغان دولت مخالفینو ته وسلې او باروت سپارل چې د نیولو او رسوایی بېلګې یې د هر افغان په یاد دی.

دغه رنګ په دې ورځو کې د ایراني حکومت له خوا د افغان سوداګرو پر تېلو بار ټانکرونو بندیز لګول، چې د ایراني دولت دوه مخې بلکې درې او څلور مخې سیاست ترې ښه ترا څرګندېږي.

که څه هم ایراني دولت په یو څه طمع او لالچ د یو شمېر اغېزمنو افغاني چارواکو خولې بندې کړي دي، خو که کله اوبه تر ورخه تېرې شي، دا وړ حالات ښایي د ایراني ولس او دولت په زیان تمام شي.

ایراني رهبران که څه هم د اسلامي امت د اتحاد او یووالی شعارونه ورکوي خو کړنې او پالېسی یې په حقیقت کې له اسلامي امت سره دښمنانه دي.

په دغسې حالاتو کې چې افغانان څه له پاسه درې لسیزو راپه دېخوا تر ننه له یوې نه ختمېدونکې جګړې سره مخ دي، هېواد یې وران ویجاړ او په هر اړخیز ډول یو مجبور او کمزوری ملت دی. که ددغو ټولو مجبوریتونو سره د سیمې او نړۍ د پیلانو دا زور ازموینې ډګر وګرځي، افغانان به د لا زیاتو مشکلاتو سره مخ شي.

موږ منو چې د افغانستان دولت به د خپل ولس د اقتصادي ستونزو د حل په اړه د یوه منظم پلان دنه لرلو له لامله ګرم وي، ځکه چې افغان چارواکو تر ننه پورې د خپل ولس د ستونزو د راکمولو په اړه تراوسه داسې ګام پورته کړی نه دی، چې ولس پرې قانع کړای شي. لکه تېل، ګاز، کیمیاوي سرې او خوراکي توکي دې د یو بین الدولتي قرارداد له مخې هېواد ته وارد کړي او د یوه معلوم او ټاکلي نرخ له مخې دې وپلوري.

"نور بیا"

د اسلامي تاریخ لومړنی پېښې

ژباړه: دکتور عبد الوهاب (حسام)

(دوهمه برخه)

س۲۵: په مدینه منوره کی د پیغمبر علیه السلام لومړی خطبه کومه وه؟

خ: وروسته له هغې چې پیغمبر علیه السلام د الله جل جلاله حمد او ثنا وویله، داسې یې وفرمایل: ای خلکو د ځان لپاره توښه برابره کړی، قسم په الله چې پر تاسې دداسې تندر اواز راتلونکی دی چې په نتیجه کې به یې تاسې خپلې میږی یوازې پریږدی، بیا به خامخا الله جل جلاله له تاسې نه په داسې حال کې پوښتنه کوي چې په منځ کې به مو ترجمان او پرده نه وي، الله پاک به درته وایي: ایا زما استازې تا ته نه وه درغلی ! تبلیغ یې درته نه وه کړی ! مال مې نه و درکړی ! فضل مې درباندې نه وه کړې ! نو تا د ځان لپاره کومه توښه تیاره کړې ! نو دې به خپلې ښې او کیڼې خواته و ګوري هیڅ به و نه ویني، بیا به مخامخ وګوري مخامخ به د دوزخ نه پرته به بل څه نه وي، که څوک کولای شي چې خپل ځان له اوره وساتي که د یوې خرما ورکول هم وي نو دا کار دې وکړي، او که څوک د یوې خرما د ورکولو وسه هم نه لري نو دا کار دې د یوې ښې خبرې په کولو سره وکړي، ښېګه چې د یوې نیکی بدله یو په لسه ان تر اوو سوو پورې ورکول کیږی. و السلام علیکم ورحمة الله و برکاته.

بیا پیغمبر علیه السلام دوهم وار بله خطبه و ویله او ویې فرمایل: حمد او ثنا الله لره ده، او له هغه نه کومک او پناه غواړم، د نفس د شر او بدو عملونو نه، چا ته چې الله هدایت وکړ هغه څوک ګمراه کولای نه شي، او څوک چې الله ګمراه کړو څوک ورته هدایت نه شي کولای، شاهدي ورکوم چې الله جل جلاله شریک نه لري له هغه پرته بل څوک د بندګی وړ نه دی، رښتیا چې ښی خبرې د الله په کتاب کې دی، څوک چې مسلمان شو او قرآن یې په زړه کې ځای و نیو او الله

هغه د خلکو له خبرو نه چې د فصاحت او بلاغت والا دی غوره کړو هغه کامیاب دی، هغه څوک خوښ و ګڼی چې الله خوښ ګڼلی، الله د زړه له کومې خوښ و ګڼی، د قرآن او د الله د ذکر نه مه ستړي کیږئ، د الله عبادت وکړئ، شریک ور سره مه پیدا کوئ، په رښتیا له الله نه و ویریږئ، نیک عملونه الله ته صدقه کړئ، د الله لپاره یو بل خوښ وګڼئ، الله پاک پر وعده خلافی زیات غصه کیږي، و السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

س۲۶: د لومړي ځل لپاره د جمعې لمونځ کوم و؟

خ: ابن سرین وایي: مخکې له دې چې پیغمبر علیه السلام مدینې ته تشریف راوړي او یا د جمعې د لمانځه په هکله وحی نازله شي د مدینې وګړي راټول شوو؛ ځکه چې انصارو ویل چې: یهودیان او عیسویان په اونی کې یوه ورځ راټولیږي، نو راځئ چې مونږ هم په اونی کې یوه ورځ معلومه کړو په هغې کې به د الله د ذکر، شکر او لمونځ لپاره راټولیږو، د جمعې ورځ یې د همدې موخې لپاره و ټاکله او د)یوم العروبه(په نوم به یې یادوله، یوه جمعه (اسعد) نومې صحابي ته دلمانځه لپاره را ټول شوو هغه ورته دوه رکعته لمونځ ورکړ، بیا یې دا ورځ د جمعې د ورځې په نامه سره یاده کړه، اسعد لمونځ کوونکو ته پسه حلال کړ، غرمه او ماښام یې پرې وخوړ، بیا الله پاک دا آیت نازل کړو [یا ایها الذین آمنوا اذا نودی للصلاة من یوم الجمعة فاسعوا الی ذکر الله]

عبد الرحمن د کعب ځوی د مالك لمسی وایي: زما پلار به چې کله د جمعې د لمانځه اذان واورید نو د اُمامه پر پلار اسعد د زراره په ځوی به یې درود وایه او هغه ته به یې د مغفرت غوښتنه کوله، نو ما ترې په دې هکله پوښتنه و کړه هغه راته و ویل: ای ځویه ! دا لومړی کس و چې په مدینه کې یې مونږ ته د لومړي ځل لپاره د جمعې لمونځ راکړ، بیا ترې ما و پوښتل، تاسې په هغه ورځ څو کسان وی؟ هغه وویل: مونږ څلویښت کسان وو، او دا د جمعې لومړی لمونځ و چې په مدینه کې وشو.

ویل کیږي چې اسعد دا کار د پیغمبر علیه السلام په هدایت سره کړی و ځکه چې د جمعې دلمونځ حکم په پیغمبر علیه السلام د هجرت نه مخکې په مکه کې شوی و، مګر د کفارو د خطر په وجه پیغمبر علیه السلام هلته نه و کړی، کله چې بیغمبر علیه السلام هجرت وکړ نو دوی ته یې ولیکل چې راټول شئ، نو دوی راټول شوو او اسعد ورته دوه رکعته لمونځ ور کړ.

س۲۷: نبي صلی الله علیه وسلم د جمعې لومړی لمونځ د مدینې په کوم ځای کې ادا کړ ؟

خ: کله چې پیغمبر علیه السلام مدینې ته هجرت وکړ، د دوشنبې په ورځ چې د هجرت لومړی کال او د ربیع الاول ۱۲ مه چې د ۶۲۲ ملادي کال د سبتمبر د ۲۴مه سره برابره وه قبا ته ورسید، او د ابن اسحاق په حواله هلته په بني عمرو ابن عوف کې دوشنبه، سه شنبه، چهارشنبه او پنجشنبه پاتې شو، د قبا مسجد یې جوړ کړ، وروسته د جمعی په ورځ د قبا نه روان شو، کله چې د بنی سالم بن عوف کلي ته ورسید د جمعې د لمانځه وخت و، په هماغه کلي کې یې د جمعې لمونځ وکړ، دا د پیغمبر علیه السلام



لومړی د جمعې لمونځ و چې ادایی کړ.

س۲۸: د پیغمبر علیه السلام په مسجد کې د جمعې د لمانځه نه وروسته لومړی د جمعې لمونځ کوم لمونځ و؟

خ: د ابن عباس نه روایت دی چې د پیغمبر علیه السلام په مسجد کې د جمعې د لمانځه نه وروسته د جمعی لمونځ د بحرین منطقی د عبد القیس په مسجد کې وشو. ترمیذی او ابو داود روایت کړی.

س۲۹: لومړی پیغمبر علیه السلام د کوم اختر لمونځ اداکړی؟

خ: د کمکي اختر لمونځ او د هجرت په دوهم کال کی و.

س ۳۰: لومړی غزا چې پیغمبر علیه السلام په کې پخپله شرکت کړی دی کومه غزا وه؟

خ: د الابواء غزا وه، که چا و ویل چې د ودان غزا وه نو ورته و وایه چې الابواء او ودان دواړه نژدی ځایونه دی په دی کې اختلاف نه شته.

س۳۱: لومړی بیرغ چې پیغمبر علیه السلام پورته کړی و کوم و؟

خ: ابن اسحاق وایی: لومړی بیرغ چې پیغمبر علیه السلام پورته کړی و د عبیده بیرغ و په دغه وخت کی پیغمبر علیه السلام حمزه د عبد المطلب ځوی د دیرشو کسانو سره چې ټول مهاجرین وو او د انصارو څخه په کې یو کس هم نه و سیف البحر ته د (العیص) له طرفه ور و لیږه، هلته د ابو جهل د هشام ځوي چې مکې ۳۰۰ کسان ور سره وو مخامخ شوو، مجدي د عمرو الجهنی ځوی چې دواړو طرفونو ته منلي شخص و د دوی تر منځ د جنګ مانع شو.

ابن اسحاق وایی: ځنی خلك وایی: چې د حمزه بیرغ لومړی بیرغ و چې کله پیغمبر علیه السلام دی)حمزه(او عبیده یو ځای و لیږل دی خبری خلکو ته یو څه سودا پیدا کړه، خو زه وایم: چې په دی روایت کې فقط د حمزه نوم مخکې راغلی او بس. او سعد و وقاص ځوی یې د الابوا د غزا په مشری لیږلی و. و الله اعلم.

س۳۲: د محاسبی نظام د لومړي ځل لپاره چا تاسیس کړ؟

خ: عمر د خطاب ځوی رضي الله عنه.

س۳۳: دیوانونه چا د لومړی ځل لپاره ولیکل؟

خ: عمر د خطاب ځوي رضي الله عنه لومړی و چې دیوانونه یې ولیکل.

س۳۴: د خلفاو نه لومړی چا دیوانونه عربي ته و ژباړل؟

خ: عبد الملك د مروان ځوی لومړی هغه خلیفه و چې دیوانونه یې عربی ژبی ته و ژباړل، د مصر دیوان په قبطیه ژبه لیکل شوی و، او د فارس دیوان په فارسی ژبه لیکل شوی و، او د شام دیوان په یونانی ژبه لیکل شوی و.

د شام دیوان سلیمان د سعد ځوی و ژباړه او د فارس دیوان صالح د عبد الرحمن ځوي او د مصر دیوان د عبد الملك په وخت نه بلکی د هغه د ځوی ولید په وخت کی و ژباړل شو.

س۳۵: جنګي بحری ګشتی د لومړی ځل لپاره د کوم خلیفه په وخت کی جوړه شوه؟

خ: بحري جنګي کشتی د لومړی ځل لپاره د عثمان رضي الله عنه په خلافت کی معاویه رضي الله عنه چې د شام والي و جوړه کړی وه.

س۳۶: د اسلامی دعوت د نشر په موخه چا د لومړی ځل لپاره علم کلام خپله وسیله و ګرځوله؟

خ: معتزله لومړي هغه خلك دي چې د اسلامی دعوت د نشر په موخه یې د علم کلام نه استفاده کړی ده.

(نور بیا)

ژباړه او لنډیز: محمد خلیل

ایمان او استقامت

ایمان او استقامت د اسلام د سپېڅلی دین حاصل دی، اسلام چې د انسان ټول ژوند یې پخپل غیږ کې نیولی دی په دغو دواړو کې راغونډ شوی دی. ایمان له عقیدې سره اړیکه لري او استقامت له عمل سره. د عقیدې او عمل په یو ځای کولو سره د انسان دین بشپړیږي. قرآن کریم په څرګندو ټکو کې فرمایلی دي چې د الله بشپړه رضا او د آخرت کامیابي یواځې د ایمان او استقامت له لارې ترلاسه کیدې شي.

ژباړه: "کومو خلکو چې وویل زموږ رب الله دی او بیا پخپل په دې خبره کلك ودریدل نو هغوی ته پرښتې کښته کیږي او ورته وایي چې تاسې مه ویره کوئ او نه هم غم، ستاسې لپاره د الله له لورې دهغه جنت زیری دی چې له تاسو سره وعده شوی ده. موږ ددنیا او آخرت په ژوند کې ستاسې دوستان یو، او ستاسې لپاره په جنت کې ټول هغه شیزونه موجود دي چې ستاسې زړونه غواړي. او څه چې تاسې وغواړئ درته درکول کیږي، دا ستاسې لپاره د ښونکی او مهربان خدای له لورې میلمستیا ده " (سوره حم السجده: ۳۰ - ۳۲)

حضرت سفیان بن عبدالله ثقفی رضی الله عنه له محمد صلی الله علیه وسلم نه غوښتنه وکړه چې ماته د اسلام په باره کې داسې لارښوونه وکړئ چې له تاسو نه وروسته له بل چا نه د پوښتنې ضرورت پیدا نه شي. محمد صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

"ووایه چې ما پر الله جل جلاله ایمان راوړی دی او بیا پر هغه کلك ودریږه." (مسلم، نسایی احمد)

پر الله جل جلاله ایمان راوړل یو زبردست انقلاب دی چې ستا د فکر او عمل په دینا کې ښکاره کیږي او په تا کې بشپړ بدلون راولي. د ایمان ژوند پر حق دثابت پاتې کېدو ژوند دی که تا په صحیح معنی ایمان راوړې وي نو تاته به ضرور داسې استقامت په برخه کیږي چې ددنیا یو ځواک به هم تاته ماته نه شي ورکولې.

که ته الله جل جلاله په صحیح معنی منې نو دهغه لازمي غوښتنه داده چې هغه به له خپل ځان نه زیات عزیز ګڼې او دهغه د رضا لپاره به د خپل ځان قربانولو ته چمتو کیږی، هغه څوك د ایمان په مزو پوهیږي چې د الله تعالی د خوښي دترلاسه کولو لپاره نور هر څه هېر کړي او له ټولو هغو شیزونو څخه لاس په سر شي چې د الله تعالی د ناخوښۍ سبب ګرځي.

الله تعالی انسان داسې نه دی پیدا کړی چې ذ ایمان لاره یې ورته بالکل اسانه کړې وي بلکې دهغه په زړه کې د ایمان له دغې لارې څخه د بغاوت او سرغړونی جذبات هم پیدا کړي دي، یو انسان ته د ایمان خوږوالي هله په برخه کیږي چې د بغاوت او سرغړونې په ماتولو کې بریالې شي، د ایماندار په ژوند کې آرامي او سهولتونه نه وي بلکې دهغه لپاره د ډېرو سختو هلو ځلو ضرورت دی، ځکه چې د انسان نفس دا غواړي چې د خپلو ټولو غوښتنو د پوره کولو لپاره آزاد وي لیکن ایمان انسان ته د بې قیده ژوند تیرولو اجازه نه ورکوي بلکې د الله تعالی د احکامو پابند ګرځوي.

له استقامت پرته هېڅ یو مسلمان نشي کولې چې پر دیني احکامو پابند واوسي. دې لپاره پکار دی چې پخپل نفس بشپړ قابو او تسلط ولري.

د الله په لاره کې دغه استقامت په ټول ژوند کې پکار دی نه کوم ټاکلې او خاص وخت لپاره، ځکه چې پر الله جل جلاله د ایمان راوړلو په صورت کې ټول شیطاني ځواکونه دهغه په خلاف ودریږي او د جنګ اعلان ورسره کوي، هغه هله خپل ایمان ساتلی شي چې په دې لاره کې له صبر او استقامت څخه کار واخلي د شیطاني قوتونو په خلاف کلك مقاومت وکړي او له هیڅ قسم تکلیفونو څخه ونه ویریږي، کوم انسان چې د دښمن په مقابل کې په بشپړ قوت او حوصلې سره ودریږي او یوې شیبې لپاره هم پښې ونه لړځیږي نو هغه دې پوه شي چې ایمان یې پوخ او د آخرت هغه کامیابي یې ترلاسه کړېده چې دېر خلك ترینه محروم دي او دا ارمان به کوي چې کاش موږ هم الله خوشاله کړی وای، او آخرت مو نه وای برباد شوې.

شهادت اوونیزه

خپروونکی اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنگي ځانګه

د امتیاز څښتن حزب اسلامي افغانستان

مسوول مدير عبدالله کامه وال

مرستیا ل مدیر عبدالخلیل محمد خلیل

داړیکې شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۶

ایمیل

shahadatnews_kabul@yahoo.com

دیزاین خواجه وحیدالله

د کتنپلاوي تر څارنې لاندې

آدرس دحزب اسلامي دفتر

سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

نظر پوښتنه ښيي چې د افغانستان ...

خواکونو ته وسپاري.

په نظرپوښتنه کې ډېرو امریکایانو باور څرګند کړی چې د متحدو ایالتونو اقتصاد مخ په ښه کېدو دی خو له دې سره سره تر پنځوس فیصدو زیاتو پوښتل شویو امریکایانو د ولسمشراوباما اقتصادي مدیریت او تګلاره رد کړې ده.

دا نظرپوښتنه له ۱۶۴۷ تنو څخه د پوښتنو پراساس شوې ده.

د هغې نظرپوښتنې له مخې چې تېر کال په مې کې د سي بي سي له لورې شوې وه او پایلې یې په جولای کې خپرې شوې په سلو کې ۴۴ امریکایانو په افغانستان کې د ولسمشربارک اوباما د جګړې تګلاره رد کړې او یا ناکامه بللې وه.

د سي بي سي د مې د میاشتې په نظرپوښتنه کې ۳۷ فیصدو امریکایانو د افغانستان د نهه کلنې جګړې د پای ته رسولو لپاره د ولسمشربارک اوباما تګلاره رد کړې وه.

خوپه سلو کې ۴۳ پوښتل شویو کسانود اوباما تګلاره تایید کړې ده. په مې کې د اوباما د پالیسی د تاییدونکو فیصدي ۴۴ وه.

خو د هغو کسانو شمېر، چې په دې باب یې په مې کې خان ته د څه ویلو جرات نه وو ورکړی، له ۱۹ فیصدو ۱۳ فیصدو ته راکم شوی وو. په وروستی نظرپوښتنه کې دې ډول جزییاتو ته اشاره نه ده شوې.

نمی دانم چرا در جنگی که ...

داند چرا در جنگي که به فرانسويها ارتباطی ندارد، ازهمین اکنون شکست آن متصور است، وارد شده است.

وي پیشنهاد کرد که فرانسه نیروهاي خود را فورا از خاک افغانستان خارج کرده و سیاست جهت دهي جدیدي را نسبت به اولویت هاي نظامي خود قایل شود.

مونتبورگ با اشاره به اینکه سال ۲۰۱۴ میلادي براي خروج نیروهاي نظامي فرانسوي از خاک افغانستان بسیار دیر خواهد بود، افزود: طوریکه همه ساله بر شمار نیروهای فرانسوی کشته شده در درگیریهای افغانستان نیز افزوده می شود.

پیش ازاین "اروه مورن" وزیر دفاع پیشین فرانسه اعلام کرده بود که نیروهاي فرانسوي از اوایل سال ۲۰۱۱ میلادی به تدریج خاک افغانستان را ترک خواهند کرد.

این درحالي است که "آلن ژوپه" وزیر دفاع کابینه ترمیمي جدید "فرانسوا فیون" صدر اعظم این کشور، گفته است که نیروهاي فرانسوي در سال ۲۰۱۴ میلادي خاک افغانستان را ترک خواهند کرد.

این نماینده حزب سوسیالیست در ولسی جرگهء فرانسه در ادامه سخنان خود خاطرنشان ساخت: بررسي ها نشان مي دهد که در جریان سال ۲۰۰۹ میلادي حد اقل ۵۰۰ و در سال ۲۰۱۰ میلادي نیز ۷۰۰ تن از سربازان ناتو در افغانستان جان باخته اند.

وي تصریح کرد: ضروري است براي جلوگیري از افزایش شمار تلفات عساکر ایساف در افغانستان، فورا امنیت این کشور به دولت و نیروهاي افغاني واگذار شده و سربازان خارجی از محل خارج شوند. نماینده ولسی جرگه فرانسه پالیسی فعلی دولت فرانسه در مورد افغانستان را از سیاست های ناتو و امریکا متاثر دانست و اظهار داشت: این ستراتیژی هیچ گونه رابطهء با منافع ملي فرانسویها نخواهد داشت.

وی یادآورشد که جناح راست فرانسه با در پیش گرفتن ستراتیژی کورکورانه دیکته شده از سوی امریکا و ناتو، پای نظامیان فرانسوی را به جنگی ناخواسته کشانده که فرانسه نباید درآن وارد می شد. قابل یاد آوریست که در حدود ۵۳ تن از سربازان فرانسوی از سال ۲۰۰۱ میلادی، درخاک این کشور کشته شده اند.

حامد کرزی خواهان رفع ...

طریق دولت افغانستان به مصرف برسد و در قسمت عقد قرارداد ها نیز به نهادهای افغانی، اولویت داده شود.

در خبرنامه ریاست جمهوری آمده است که در دیداری با هیئت یادشده که در ترکیب آن سناتوران احزاب جمهوری خواه و دموکرات حضور داشتند، راجع به همکاری های درازمدت ایالات متحده امریکا به افغانستان، انتقال مسوولیت ها به نیروهای امنیتی افغانستان، وضعیت تعلیم و تربیه و وضعیت زنان در کشور بحث و تبادل نظر صورت گرفت. منبع می نویسد که سناتوران ایالات متحده امریکا گفتند که همکاری های درازمدت امریکا با افغانستان تا زمانی ادامه خواهد داشت که افغانستان به آن نیاز داشته باشد و ایالات متحده امریکا در تطبیق پلان های حکومت افغانستان، برای بهبود وضعیت کشور به طور مداوم همکاری خواهد داشت.

دفتر سخنگوی رئیس جمهور نوشته است که هیئت یادشده، پیشرفت های بازسازی و نوسازی در افغانستان را مهم خوانده گفتند که ایالات متحده امریکا حمایت های سیاسی، اقتصادی و نظامی خویش را با افغانستان برای تداوم بهبود وضعیت اقتصادی، تامین امنیت و ثبات در این کشور ادامه میدهد. در خبرنامه تذکر داده شده است که رئیس جمهور افغانستان در گفتگو با هیئت یادشده، حضور زنان را در نهاد های مختلف کشور برجسته خوانده گفت که بعد از یک دوره طولانی، تحجر و مشکلات برای زنان در کشور، حقوق زنان در افغانستان اعاده میگردد و زنان در شورای ملی، نهاد های مدنی و بدنه حکومت عملاً مصروف کار و خدمت گذاری به کشور شان میباشند.

در خبرنامه به نقل از رئیس جمهور آمده است: (با تاسف در نقاط ناامن کشور هنوز هم در رفتن دختران به مکاتب مشکلاتی وجود دارد، اما امیدواریم که با بهبود وضعیت امنیتی آن عده دخترانی که به اثر تهدید مخالفین به مکتب رفته نمي توانند، دوباره به مکاتب برگردند تا در آینده برای خود، فامیل و میهن خویش خدمت نمایند.) این در حالی است که وزیر معارف افغانستان، اخیرا گفته است که طالبان مسلح از مخالفت با مکاتب دخترانه دست کشیده اند.

د افغانستان هیڅ داسې سیمه ...

ورکړې او هغه لا پراخه کړې.»

د حکومت د رسنیو مرکز دوه کاله مخکې جوړ او هدف یې رسنیو ته په وخت سره د معلوماتو ورکول دي.

ددغه مرکز مشر ډاکټر حکیم عاشر وایي، چې د حکومت د رسنیو مرکز خبریالانو ته د معلوماتو د ورکولو په برخه کې زیاتې هڅې کړې او په دې برخه کې پرتې خنډونه ستونزې هوارې کړې:

«د حکومت رسنیو او خلکو ترمنځ د معلوماتو په لیږدلو کې د حکومت د رسنیو مرکز ښې اسانتیاوې رامنځ ته کړې، موږ هر هغه څه مو چې په وس کې وو تر سره کړل تر ټولو ډیره هڅه مو د رسنیو او حکومت ترمنځ د ښو اړیکو په ټینګولو کې وه.»

ښاغلي عاشر زیاته کړه، چې په افغانستان کې خبریالان د معلوماتو په لاسته راوړلو کې له ستونزو سره مخ وو، خو د دې ښستې په جوړېدو یې ستونزې هوارې شوې دي خو افغان خبریالان بیا د دغه مرکز له کارونو راضي نه بریښي او وایي هغه څه چې باید دغه مرکز کړي وای لا یې نه دي کړي، په دې اړه د شمشاد تلویزیون یو خبریال عابد احساس وایي:

"د حکومت د رسنیو مرکز که ژورنالستان او دولتي اداري سره نږدې کړي، خو هغه څه یې چې باید کړي وای نه دي ترسره کړي، هغه معلومات چې ژورنالستان ورته لاس رسی نه لري او ژورنالستان یې د معلوماتو د لاسته راوړلو په برخه کې له ستونزو سره مخ دي، د هغو زمینه یې تر اوسه خبریالانو ته نه ده برابره کړې."

نوموړي وایي چې د محکمو او ځینو وزارتونو په برخه کې اوس هم خبریالان د معلوماتو د ترلاسه کولو په برخه کې له ستونزو سره مخ دي.

خو د کتونکو په وینا معلوماتو ته نه لاس رسی په افغانستان کې د خبریالانو په وړاندې یوازینۍ ستونزه نه ده، بلکه د دوي په وړاندې د تاوتریخوالي موجودیت هم د رسنیو د کارونو په وړاندې ستونزې جوړې کړې.

په راوینشاو پوهنتون کې هندي ...

افغان محصلین یې وژغورل او بیا یې روغتون ته ولېږدول. په پېښه کې له افغان محصلینو پرته یو بل محصل او څو ژورنالیستان ټپي او کمرې یې ورماتې شوې.

د یادونې وړ ده چې په نوموړي پوهنتون کې ټول ټال ۷۸ بهرني محصلین زده کړه کوي چې ۶۹ یې یواځې افغان دي او د ۲۰۰۹ کال راهیسې چې بهرني محصلینو په نوموړي پوهنتون کې داخله کړې د محلي او بهرني محصلینو تر منځ دا دوهمه شخړه ده. لومړی خل شخړه د فوټبال په یوه دوستانه لوبه کې د محلي محصلینو د ماتې په پایله کې راپېښه شوې وه.

د افغانستان دولت د بهرنیو چارو وزارت د پېښې په اړه غبرګون ښودلی او په ډیلي کې د افغانستان سفارت ته یې امر کړی چې د موضوع د څېړلو په موخه یو هیئت سیمې ته ولیږي. د بهرنیو چارو وزارت همدارنګه له هند څخه په منته چې افغان محصلینو ته تحصیلي بورسونه چمتو کوي له نوموړي هېواد غوښتې چې د محصلینو امنیت ته جدي پاملرنه وکړي.

په ډیلي کې د افغانستان سفارت علمي او فرهنګي ځانګې غړي عبدالعظیم سهاک او محمد آرش نوموړي ایالت ته رسیدلي او د ټپي شوي محصلینو له لیدو وروسته یې د پوهنتون له مرستیال (وایس چانسلر) او د محل د پولیسو مسئولینو سره کتلي دي. تر دې وروسته د سفارت استازي په هوټلونو او کرایي کورونو کې مېشتو نورو افغان محصلینو سره وکتل.

افغانستان او پاکستان د اړیکو...

مسولیتونه سر ته ورسوي."

نوموړي افغانستان ته د خپل سفر اساسي هدف د هغو ژمنو تعقیب وباله، چې د پاکستان صدراعظم په خپل وروستي سفر کې کړې وې.

دافغانستان دبهرنیو چارو وزارت بیا وویل، چې نوموړي دخپل سفر په موده کې په دوه اړخیزو سیاسي اواقتصادي مسایلو ګټورې خبرې کړې دي.

د دغه وزارت ویاند احمد ظاهر فقیري د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت د مرستیال او د افغان چارواکو ترمنځ د شویو بحثونو نتیجو ته خوشبیني ښوده.

خو بل پلو د سیاسي چارو یوشمېر کتونکي د پاکستاني چارواکو دا ډول ژمنې څکه عملي نه بولي، چې د دوی په وینا پاکستان په دې برخه کې په صداقت کار نه کوي.

عبدالرشید وزیري هم په دې باور دی او وایي د پاکستان استخباراتي کړی د وسله والو طالبانو ملاتړ کوي او غواړي، چې دا مخالفین د خپلو اوږدمهاله هدفونو د ترلاسه کولو لپاره وکاروي.

پاکستان په داسې حال کې د افغانستان د سولې له پروګرام سره د هر ډول مرستې ډاډ ورکړ، چې په پاکستان کې ځینې کړی د

افغانستان د نړۍ والو رسنیو په هنداره کې

واشنګټن پوسټ او لاس انجلس ټایمز نړیوالو چاپي ورځپاڼو د افغانستان په روانو حالاتو او د پاکستان په قبایلي سیمو لیکنې او مقالې خپرې کړې دي چې د شهادت درنو لوستونکو ته یې وړاندې کوو.

لاس انجلس ټایمز:

لاس انجلس ټایمز ورځپاڼې په خپله وروستۍ ګڼه کې د افغانستان د روانو حالاتو په اړه لیکلي:

کله چې ولسمشر باراک اوباما افغانستان ته اضافي دیرش زره سرتیري واستول او په افغانستان کې د امریکایي سرتیرو شمېر نږدې یو لک ته ورسېد، نو توقع دا وه چې د طالبانو او القاعده پر ضد مبارزه کې به د پام وړ پرمختګ وشي.

دغه راز داسې تمه هم کېده چې د ځواکونو زیاتوالی به د افغان دولت په باثباته کېدو مرسته وکړي.

خو د لاس انجلس ټایمز په وینا په خپله د اوباما اداره هم دا مني چې د دغو اهدافو ترلاسه کول تر پوښتنې لاندې دي او سره له دې چې په تیر ډیسمبر میاشت کې د افغان ستراتیژۍ په بیا کتنه کې وویل شوه چې د سرتېرو په زیاتیدو د طالبانو نفوذ کم شوی خو دا هم تائید شوي چې ترلاسه شوي اهداف او پرمختګونه ثابت او ټینګ نه دي.

د مطلب د لیکونکي په وینا د دغه محدود پرمختګ د ساتنې لپاره ډېر فکر ته اړتیا نشته.

لاس انجلس ټایمز زیاتوي د کرزي له کمزوري حکومت څخه د افغانانو د ملاتړ کمېدل دوام لري چې یو علت یې د افغان حکومت په ادارو کې د پراخ فساد موجودیت دی.

پاکستان له خپل لوري دوه مخیزې لوبې ته دوام ورکړی، د سخت دریځو پر ضد د امریکا له جګړې سره محدود ملاتړ کوي او د دغه هېواد ځیني امنیتي ادارې بیا په سرحدي سیمو کې میشت سخت دریځي وسله والې ډلې خپل ستراتیژیک ملګري بولي.

د مقالې په پای کې راغلي، د متحده ایالاتو له نهه کلن پوځي حضور وروسته په افغانستان کې د دې هېواد د پراخو مالي لګښتونو او انساني تلفاتو نتیجه خواشینونکې ده.

واشنګټن پوسټ:

واشنګټن پوسټ ورځپاڼې بیا د پاکستان پر قبایلي سیمو باندې د امریکا د بې پیلوټه الوتکو د راکټي بریدو موضوع ته کتنه کړې.

ورځپاڼه لیکي: د القاعده، طالبانو او نورو وسله والو ډلو پر پټن ځایونو باندې د بې پیلوټه الوتکو بریدو زیات شمېر وسله وال دې ته اړ کړي چې د وزیرستان څخه نورو سیمو ته وتښتي.

په شمالي وزیرستان کې سرچینو واشنګټن پوسټ ته ویلي چې دغلته د بې پیلوټه الوتکو بریدونه په دوام داره توګه روان دي او ښکاري چې دا بریدونه لاپسې پراخې شي.

دغو سرچینو ویلي د بې پیلوټه الوتکو د راکټي حملو له ویرې اوس د شمالي وزیرستان په بازارونو کې ډېر کم وسله وال تر سترګو کیږي.

اسلم وزیر، چې د شمالي وزیرستان یو دکاندار دی واشنګټن پوسټ ته ویلي ددې لپاره چې هوایي حملې زیاتې شوي اوس ډیر کم وسله وال په خاصه توګه بهرني وسله وال لیدل کیږي خو نوموړي ویلي له دې نه مخکې به زیات شمېر وسله وال پرته له ویرې په بازارونو کې ګرځیدل.

واشنګټن پوسټ وایي، زیاتره کتونکي او د چارو کارپوهان له دې سره موافق دي چې د پاکستان پر خاوره د بې پیلوټه الوتکو بریدو په لویه اندازه اغیزمنې دي.

وسله والو مخالفینو په تمویل او تجهیز په وار وار تورني شوي او په دې برخه کې پرپاکستان په نړیواله کچه انتقادونه موجود دي.

په ورته وخت کې په افغانستان کې د سیاسي چارو یوشمېر فعالین وایي، افغان حکومت باید د سولې په بهیر کې پاکستان ډیر ښکیل نه کړي، څکه د دوی په وینا پاکستان به دغه بهیر په هغه لور بوځي، چې له افغانستان څخه زیات د پاکستان ګټې په کې خوندي وي.

خو د دې سره سره افغان چارواکي له پاکستان سره خپلو شتو اړیکو ته په پام سره، چې د پخوا په پرتله یې ښه بولي د پاکستان همکارۍ ته خوشبینه دي.

افغانستان پر امریکایي قراداد ...

حاضردمه په افغانستان کې ۹۷ زره امریکایي پوځیان ځای پرځای دي.

د واشنګټن پوسټ ورځپاڼې د راپور له مخې قرادادیانو د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو ته عریضې کړي چې دا مسله روښانه کړي، د افغانستان له حکومت سره مالیه ونه مني او د دوی د حقونو دفاع وکړي.

د ورځپاڼې له راپور سره سم، سره له دې چې قرادادیانو ته ویل شوي چې د مالیو بیلونو ته توجه ونه کړي خو د افغانستان حکومت پرله پسې د مالیو بیلونه ورلېږي او ځینو امریکایي کمپنیو ته یې خبرداری ورکړی چې که مالیه یې ورنه کړه نو ممکن د هغو مقامات او کارکوونکي ونیسي، د کار جواز یې لغوه کړي او وسایل یې ورضبط کړي.

له بلې خوا د افغانستان د مالیې وزیر عمر زاخېلوال واشنګټن پوسټ ته ویلي: "زه له بهرنیو کمپنیو څخه د مالیو د اخیستلو لپاره نوي پلان ته اړتیا نه لرم خو په قانون کې استثنا نشته حتی موافقې هم نه شي کېدای چې مستثنا وي."

د واشنګټن پوسټ له مخې د افغانستان د مالیې وزیر ورته ویلي چې افغانستان د مالیو په برخه کې ډېر جدي دی.

د ښاغلي زاخېلوال له څرګندونو داسې ښکاري چې که د افغانستان حکومت له امریکا سره د امریکایي قرادادیانو د مالیو د معافیت په باب موافقې هم کړي وي، هغه د قانون خلاف دي څکه چې په قانون کې استثنا نشته.

افغان چارواکي به له روسیې ...

اندازه د ښه کیفیت لرونکي نفتي مواد په ښه بیه راکړي، چې با به دوه میلیونه ټنه وي او یا به درې میلیونه او له دې سره به زموږ په بازارونو کې د نفتي موادو بیه راټیټه شي."

د سوداګرۍ او صنایعو وزارت مرستیال غلام محمد ییلاقي زیاته کړه، چې افغانستان په کال کې دوه میلیونه ټنه نفتي موادو ته اړتیا لري.

ښاغلي ییلاقي وویل، چې د تاکل شوې اندازې نفتي موادو د واردولو لړۍ به لومړی د دولت له خوا وي، وروسته به د یوه میکانیزم له لارې خصوصي سکتور ته وسپارل شي.

د نوموړي په وینا د نفتي موادو د واردولو دا ترون به د افغان دولت له خوا لاسلیکیږي، خو د هغې د انتقال چارې به خصوصي سکتور ته سپارل کیږي:

"دا ټول ترونونه چې کیږي دا به له خصوصي سکتور سره کیږي، دولت به یوازې د ټرانزیټي مسایلو او قراردادونو زمینه برابروي او پروتوکول به سره کوي.

په منځنی اسیا کې چې د انتقالاتو په برخه کې کومې چې موږ لرو، هغه مو د سوداګرۍ وزارت ته ورکړې دي، هغوی به خصوصي سکتور ته یو مناسب بستر اماده کوي او په دې سفر کې د سوداګرۍ خوني ځیني سوداګر له ولسمشر سره ملګري وي، خصوصاً هغه سوداګر چې د نفتي موادو سوداګري کوي. هلې ځلې مو پیل کړي دي، چې دا ستونزه حل شي."

له روسیې سره د نفتي موادو ترون په داسې حال کې کیږي، چې له څو میاشتو راهیسې د افغان سوداګرو په سلګونو ټانکر د ایران په پوله ایسار کړای شوي دي.